۱۲

# زمونږ د کلي بڼ



Ketabton.com

لیکونکی: کریمه نذیر ((هارون))

موسسه انکشافی سنایی
Sanayee Development Organization
1990

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زمونږ د کلي بڼ


وه نه وو په پخوا زمانو کې زمونږ د ښار په یوه کلي کې:

یو باغ وو د میوو ډك د ګلونو او ونو
ونې یې وې ګڼې د ګلونو او شنیلو
د شنیلیو تازه بڼې له هر ځایه ښکاریدلې
په دې باغ منې او ناك هم جنار ،وله او تاك
یو دبل سره یو ځای آشنا وو په دې ځای
چاپیریال یې پاك صفا وو په خپل منځ کې با وفا وو
کال په کال په بهتري وو د میوو ثمر یې زیاتري وو

د دې بڼ روزل د یو مهربان بڼوال په غاړه وو چې شپه او ورځ به یې زیار ایست.

بڼوال هره ورځ سهار وختي د لمانځه د اداکولو څخه وروسته بڼ ته تله او په ډیر شوق او ذوق د خدای پاك(ج) د پاکو نومونو په یادولو سره د بڼ په لوري قدمونه او چتول او

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

د سهار تازه هوا څخه چې د انسان روح خوشحاله کوي ګټه اخسته، کله به چې بڼ ته ورسيد د يوې ونې د سيورې لاندې به يې پګړۍ، واسکټ، او هغه ډوډۍ چې په ملا پورې تړلې وه په يو ځای کې کيښوده وروسته به د ونو ګلونو او بوټو خواته او په خپل هميشني کار به يې پيل کوله. د لمر تر ختلو به يې کار کاوه، کرونده به يې خيشاوه کوله او د ونو بيخونه به يې نرم کول او اوبو به يې ورکولې.

د لمر ختو سره به يې د تيرې ورځې وچه راټول کړې، ښاخونه سيزل او چايجوش به يې د هغو اوبو چې د بڼ په وياله کې روانې وې را دکاوه او په اور به يې کيښود او چای به يې پوخ کړ او د ونې لاندې به ناست وو او د لمر خوندورې تودې وړانګې د ونو دپانو څخه راتيريدې او د بنوال په اوږو او غاړه لګيدې. بنوال د چای څکلو څخه وروسته بيرته په خپل کار پيل کوله او له خپل کار څخه راضي او خوښ وو. د بڼ ونې هم د بنوال د کار او توجه څخه راضي او خوښې وې او هغه ته يې ډير حاصل ورکاوو. بنوال د نوموړې حاصل څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

قـانع او خوښ وو او له خپل ځان سره به يې داسې زمزمه کوله (قناعت هغه پر ثمره ونه ده چې همیشه حاصل ورکوي)
يوه ورځ سپين ږيرى ښوال چې د زيار او کوښښ څخه ډير ستړى شوې وو د يوې ونې د سيورى لاندى کيناست تر څولږ څه دمه وکړي. د منې ونې د خپلو پانو د ښوررولو سره د ښوال عزت کاوو او په ډيره آرامتيا سره يې په نوموړى يخه هوا چلوله، تر څو ښوال په ډيره آرامتيا ويده شي، وروسته يې يو دوه منې د هغه خواته کيښودى او داسې يې وويل.

منې خوره مدام
د روغتيا په مرام
کله چې بانده شوى ته
کله چې ويده شوى ته
ستا خواته نږدى به شم
تاته به منې کيږدم
بابا تاته به منې درکړم
خوږى منې او تکى سرى درکړم
منې تاته قوت درکوى

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


منهی تاته صحت درکوی
کله یې چې وغواړی
منهی تاته تیاری دی

بڼوال ته ټولی ونی یو شان ګرانی وی. هره ورځ به چې سترړی شو د ونو خواته کېنیناست او په دی فکر کې به وو چې د طبیعت دغه ښایسته موجودات د انسانانو له ژوند سره څومره نږدی اړیکی لری.

نو څو چی مونږ ژوندی یو باید کوښښ وکړو تر څو ونی ژوندی تازه او شنی وی. دادی لپاره چې زمونږ ژوند له دوی سره تړلی او په تاوده اوړی کې د هغوی له یخ سیوری او د هغوی له خوندوره میوه څخه استفاده کړو. همدارنګه ونی زمونږ چاپیریال هوا پاکه او صفا کوی.

بڼوال د هغی خاص پاملرنی له کبله چې ونو ته یې درلود له هیچاته ددی اجازه نه ورکوله چې د ونو شاخونه مات او میوی وشکوی. هغه به د هغو کسانو څخه چې بڼ ته د ونو د کتلو یا تفریح لپاره راتلل دیر خوشحاله کیده او میلمنو ته به یې ښه راغلاست وایه. د بڼ د پاکی هوا چې د لوی

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای(ج) نعمت دی ګڼه اخیستل د خلکو حق باله. کله به چې ماشومان بڼ ته راتلل نو د بڼوال څخه به یې اجازه غوښتله او ویل به یې:

غواړو چې تفریح وکړو　　سیل او ساعتیری وکړو
پورته، پورته وغورځو　　شا وخوا راوځغلو
لوبې ماشوم توب کوو　　شعراو ترانې وایو
په هر لوری ځغاستل کوو　　پام کړو هم ګلونه
د ونو د ښاخو تر منځ　　پام کړو چې مات نشي
شا وخوا د باغ څخه　　تاو راتاو تاویږو مونږ
نه ولو مرغان د بڼ　　دوی دی همسازان د باغ
مونږ سره خوښی کوي　　په هره لور الوتل کوي
باغ زمونږ د ټولو دی　　واړه چې په ده کې دی
وایي چې مونږ ټول　　خوا په خوا خوشحاله یو
مخلوق د رب ذوالجلال یو　　مخلوق د رب ذوالجلال یو

بڼوال د ماشومانو د خوشحالیو او په احتیاط سره له ځغاستو څخه خوند اخلی او د دی په فکر کې ده چې حاصل

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library


يې زيات شي او خلکو ته خدمت وکړي او د بڼ له هوا څخه ګټه واخلي. ددی کوښښ او زحمت ګاللو څخه يې د بڼ ټولي وني او خلك راضي او خوشحاله دي او ټول د هغه درناوی کوي.

د ماشومانو پلار او مور هغوی ته وايې چې د دی بڼوال لاسونه د مچولو وړ دی.

پر مهربانه بڼوال ماشومان ډير ګران دي او د هغوی لپاره يې د ساعت تيری زمينه برابره کوله. ځيني وختونه به يې د هغوی لپاره ټال جوړ اوه چې ماشومان په هغه کې ځانګي. ماشومانو هم د بڼوال خبروته غوږ نيوه او د هغه درناوی يې کاوه. د لوبی په پای کې به ماشومانو د بڼوال لاسونه مچول او د خدای په آماني به يې کووله او بڼوال به هغوی ته ميوی ورکولی چې له ځان سره يې کورونه ته ويسی. بڼوال په هر قدم د لوی خدای(ج) څخه ددی دعا کوله چې هغه نوموړی د الله(ج) د خدمت په لاره قوت او توفيق ورکړی.

يوه ورځ بڼوال ناروغ شو او باغ ته رانغی او هغه ورځ يې په بستره کې تيره کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه يې غوښتل چې د خپل باغ د يوه ونې د سيورې لاندې ووسي لاكن باغ ته د تللو توان يې نه درلود. د بڼ ونو.

هره شيبه د ښوال د راتلو انتظار كښلو او هيله يې لرله چې د ښوال د نه راتلو له علت څخه خبر شي. ونو په ډير خپګان خپلې څانګې لاندې نيولې وې او فكر يې كاوه په همدې وخت كې د چنار ونې چې لوړ قد (ونه) يې درلود او ترليرې واټن ليدلى شو داسې زيرى وركړ: يو څوك زمونږ خواته راروان دى، قاصد دى او احوال راوړي. هو دا يو كوچنى هلك وو چې د بڼ خواته راته او د بڼ دروازى ته رانږدې شو. ورو، ورو باغ ته دننه شو په باغ كې شا و خوا د غلا په توګه وكتل، په دې پوه شو چې ښوال نشته په ډيره خوښى دى خوا، هغې خواته په منډو رامنډ شو او داسې يې له ځانه سره وويل:

د څه ښكلي ورځ ده ښوال نشته نوروزده
دى خوا هغى خواته ځغلم په مستى او خوښى لوبم
لرګى د ښوال ماتوم ګلونه له بوټو شكوم
شنيلې پښولاندې كوم ښوال سره شخړه كوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

کوچنی ماشوم هری خواته منډې رامنډې وهلې د ونو ښاخونه یې مات او ګلان یې له پښو لاندې کړل. ونې دډې ماشوم له خرابکاریو څخه ډیرې خفه شوې او خپل ښاخونه یې یو له بل سره نږدې کړل داسې ښکاریدل چې یو د بل په غوږونو کې خپل د حال راز وایي.

مونږ خو له چا سره دشمنی نلرو، کیدای شي چې دا د هغو لپاره یوه په زړه پوری لوبه وی لاکن په حقیقت کې دا یو ظلم دی چې پر مونږ کیږی.


د ناك ونې وویل:

لوی خدای(ج) فرمایلی دی:

«هر چا چې ظلم وکړ ظلم به وینی»

د توت ونې چې ډیره صدمه لیدلې وه وویل: هو، لوی خدای(ج) هر ځای حاضر او ناظر دی او دا ظلم وینی. د انګور تاك چې د ماشوم له آزار او ظلم څخه په ژړا راغی وو، دا ځکه چې ماشوم د هغه پاڼې او اومه(خام) وابښکی شکولی او له پښو لاندې کړی وو. همغه وو چې تاك ماشوم ته ښیرا وکړې او یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشــومه خوارشي　　زار و بیــــــمارشي
لاس پښې دمات شه　　د سرو پښــــته دلارشه
مور درته په قــهر شه　　کار دې ډيـر خراب شه
خدای درکړی انتقام　　ښوال وکړی مور ته پام

د سرو ونی تل صبر کاوه او د ټولوستونزو په مقابل کې يې تحمل او برده باری کوله. په پسرلی ،اوړی، منی اوژمی کې شــنه وه ، د ســرو ونی ســيوری او ښايســت يې هری خواته د خلکو د خوښی او آرامی سبب وو.

بدی دعاوی شــی نه وی　　ليری له اندیښــنی نه وی
ماشوم خو نا پــــوه دی　　بی خبر له ځان او جهان دی
هرڅه يې چې له لاس شي　　له مونږ نه يې دريغ شــــي
رابــه شي داســـي ورځ　　عــــذر به کــــوی هر يـــو
ښوال و کړی خدای(ج) روغ　　چې مونږ ته شــــي غم خور
زمونږ صبر سرور به شــــي　　بڼ په زمونږ بخــــتور شی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

د سرو ونی د انگورتاك ته تسلی ورکړه، هغه يې آرامه کړه او ورته يې وويل:


پر لوی خدای(ج) صابران گران دی، همدا سبب دی چې د سرو ونه تل شنه ده.

سبا ورځ چې ښوال روغ شوی وو، بڼ لوری ته راته، بيا هم د چنار ونی پانو په چك، چکو سره سواند او مهربان ښوال د راتلو خبر نورو ونو ته ورکړ، ټولو ونو ددی خبر په اوريدو سره خپل ځانونه تازه او خوښ وښودل او له خدای(ج) د باد سيلی د راتلو غوښتنه وکړی څو دهغی په مرسته د ونی تويې شوی پانی له بڼ څخه ليری يوسی تر څو ښوال خفه او زړه ماتی نشي.

کله چې ښوال باغ ته رادننه کيده د سلامتی دعايې ولوستله او بڼ ته داخل شومگر د بڼ حالات يې په بل شان وليدل او په فکر کې ډوب شو.

پوه شو چې بڼ ته څوك داخل شوي او په بی رحمی سره يې دونو شاخونه مات کړي دی. په ډير خفگان سره يې د ځان سره وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library




(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی د تفریح اوهوا خوری لپاره راځی ما خو د بڼ د ښو ګټو په هکله کې هغوی ته ویلی دی. نه پوهیږم دی بڼ ته کوم نا اوریدونکی راغلی دی چې دا ورانی یې کړي دی. کیدای شي په لمړی ځل دلته راغلی وی او د بڼ د ښو او ګټو څخه خبرتیا و نلری او یا کیدای شي تر اوسه یې له ماسره یې نه وی لیدلی. ما خو ټول ماشومان د دی بڼ د میوی څخه بی برخی کړي نه دی په دی وخت کې د چنار ونی غږ کړ او ویې ویل:

هلك د وه مخـــی دی ډیر خبری کړونـــکی دی
نه نیسی نصیحت ته غوږ ځو شی ستا زړه تری خوښ
تـــا سره همیـــش وی وختـــه او نا وختـــه وی
تا ســـره همـکاره وی زمـــونـــږ د زړه آزاره دی
تل به مـــیوی شکوی خـــامی او پخی شکوی
ګـــلونه پانی، پانی کړی پـــانی یې پریشانی کړی

مهربـان ښوال کله چې پوه شو هغه هلك چې هره ورځ راځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



(c) ketabton.com: The Digital Library

اوپه ظاهره له ما سره مرسته کوی او زما زړه خوښ کوی، زما په غیاب کې او یا کله چې زما پام نه وی زما په آزار پیل کوی ونی ماتوی او د بڼ اومه میوی شکوی. بښوال تصمیم ونیو چې نوموړی ماشوم خپلو تیروتنو ته متوجه کړي او دا چې دوه مخی دی له دی بد عمل څخه یې منع کړي او سمی لاری ته یې ښوونه وکړي. سبا ورځ بڼوال نوموړی ماشوم ته داسې وویل:

ګرانه زویه!

دوه مخی توب او دوه رنګی ښه کار نه دی دادی نه دی اوریدلی چی وایې: «دوه مخی سړی نه مخ لری نه شا».

نوموړی ماشوم له خپلو کړنو څخه پښیمانه شو او د بڼ له ټولو ونو او بڼوال سره یې وعده وکړه چې له دی وروسته به صادق وی او هیڅ چا ته به ضرر نه رسوئ.

ماشوم له لوی خدای(ج) څخه د مغفرت او د ببښنی دعا و غوښته او د انګور له تاك څخه یې معذرت غوښت.

هو ګرانو ماشومانو!

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه څوك چې خرابي او وراني كوي هيڅ چاته ګران او عزت من نه وي حتى ونو هم مضر خلك ته ښه نه وايي. نو كوښښ وكړئ هيڅ كله خرابـــي مه كوي او تل كوښښ كوي څو نيك او ښه كارونه وكړئ. څو د ټولو لپاره محبوب او ګران اوسي.

پاي

(c) ketabton.com: The Digital Library

12

# In Tne Name Of God


| | | |
|---|---|---|
| Published by | : | Sanayee Development Organization (SDO) |
| Writer | : | Karima Nazir Haroni |
| Editor and Chief | : | Raz Mohammad Dalili |
| Translator | : | Associate Pro. Amanullah Ludin |
| Editor | : | Zarghona nick angam Rhmati |
| Artist : | : | Latif Ahmad Ghafori |
| Composed By | : | S.Nazir Hussaini |
| 1st Edition | : | 2000 copies, (SDO) |

1st Edition : 1000 copies, Financed by (SDO), May 2007
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by (SDO), Nov 2007
2nd: Enditon : 1000 copies, Financed by (SDO), Feb 2008

| | | |
|---|---|---|
| Publishing date | : | Apr 2010 |
| Number of copies | : | 2000 copies |
| Financed by | : | Sanayee Development Organization (SDO) |



| | | |
|---|---|---|
| Kabul address | : | Sanayee Development Organization (SDO)<br>Qala-e-fatiullah 9th street, Near Shahoon Electricity Junction |
| Kabul telephone | : | 0093-(20) 2201693 |
| Post Box | : | 181 Kabul Afghanistan |
| Email | : | sdfkabul@ceretechs.com |
| Websites | : | wwwsanayee.org<br>Www.nawidefarda.com |
| Peshawar Address | : | Kabul English Language Center,<br>Behind Orakzai Plaza and total CNG, university Road Shaheen Town, Peshawar Pakistan |
| Telephone | : | 0092-91-5842155-91582165 |
| Fax | : | +92+-1-5845139 |


**All Rights Reserved**

(c) ketabton.com: The Digital Library

غواړو چې تفریح وکړو     سیل او ساعتیری وکړو
پورته، پورته وغورځو     شا وخوا راوځغلو
لوبې ماشوم توب کوو     شعراو ترانې وایو
په هر لوری ځغاستل کوو     پام کړو هم ګلونه
د ونو د ښاخو تر منځ     پام کړو چې مات نشي
شا وخوا د باغ څخه     تاو راتاو تاوېږو مونږ
نه ولو مرغان د بڼ     دوی دی همسازان د باغ
مونږ سره خوښې کوي     په هره لور الوتل کوي
باغ زمونږ د ټولو دی     واړه چې په ده کې دی
وایي چې مونږ ټول     خوا په خوا خوشحاله یو
مخلوق د رب ذوالجلال یو     مخلوق د رب ذوالجلال یو

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**